ASA

د افغانستان اسلامي امارت
د علومو اکاډمي
د طبیعي - تخنیکي علومو معاونیت
د کیمیا، بیولوژي او کرنې د علومو مرکز
د کرنې انسټیټوټ

# د خوږو جوارو د (FAO 290) ګروپ د هایبریډونو د ودې او اقتصادي ارزښت مطالعه

وړاندې کوونکی: څېړندوی محمد منیر نظیري

# بسم الله الرحمن الرحيم

ASA

# ځینې اصطلاح ګانې

1 - **Inbred line:** دا هغه نبات دی چې د خپلې ګردې د القاح په واسطه (Self Pollination) په مصنوعې ډول د انسان په واسطه د 5 - 7 کلونو په اوږدو کې منځته راځي.

2 - **Hybrid:** د هغو نسلونو څخه عبارت دي چې د دوه یا څو خالصو لاینونو یا Inbred line ترمنځ د القاح په واسطه منځته راځي چې د لاینونو په نسبت یې د حاصلاتو کچه 20 - 30 سلنو پورې ډېره وي.

3 - **Single Cross:** د دوو Inbred lines القاح کیدو په نامه یادېږي.

4 - **Double Cross:** د دوو Single Crosses یو له بل سره القاح کېدو ته ویل کېږي.

5 - **Three ways cross:** له یو Inbred line او یو Single Cross له القاح څخه منځته راځي.


6 - **Synthetic:** هغه جوار دي چې د څو بېلابېلو Inbred lines له القاح څخه رامنځته کېږي.

ASA


# Type of Crosses د تزويج ډولونه

| Single cross | Double Cross | Three – ways Cross |
| --- | --- | --- |
| (AXB) | (AXB) (CXD) | (AXB) C |

ASA




خلورم شکل: د Single cross په واسطه د جوارو د نارینه او ښځینه بوټو تزویج






پنځم شکل: د Double Cross په واسطه د جوارو د بوټو تزویج

ASA

# د څېړنې مواد او مېتود

دا څېړنه د 2019 - 2020 کلونو په اوږدو کې د کرسنادار د منطقې په مرکزي زون کې ترسره شوه.

نوي جنیټیکي مواد د خوږو جوارو د هغو ورایټي ګانو په اساس رامنځته شول، کومې چې له امریکا او جاپان څخه ترلاسه شوې وې.

یادې ورایټي ګانې د کرسنادار په منطقه کې لړ حاصل ورکوونکې وې، له همدې امله دا څېړنه ترسره شوه، ترڅو د منطقې د شرایطو سره توافق کوونکې لوړ حاصله د خوږو جوارو هایبرېډونه رامنځته شي.

ASA

د منطقې د شرایطو سره د توافق کوونکو نویو جنیټیکي موادو د لاسته راوړلو په موخه، د یادو ورایټي ګانو له ډلې څخه د خوړو جوارو اووه ورایټي ګانې وټاکل شوې.

د جنیټیکي پایې د پراختیا لپاره چې د منطقې د شرایطو سره توافق ولري، لومړی د څېړنې په پیل کې د خوړو جوارو اووه ورایټي ګانې د Single Backcross په مېتود تزویج شوې.

ASA

# انتخاب Selection

د انتخاب (Selection) په پروسه کې د معمولي جوارو لاینونه چې د پېژندنې خصوصیات (Pedigree) یې معلومه وه، شامل وه.

له یادو لاینونو څخه هغه لاینونه انتخاب کړای شول، کومو چې د خوږو جوارو سره د ښه ترکیب وړتیاوې درلودې.

وروسته بیا د انتخاب شویو لاینونو د له ګډون څخه د خوږو جوارو نوي هایبرېډونه رامنځته شول، چې د څېړنې پایلې په راتلونکو جدولونو کې راوړل کېږي.

# د خپرنې شرایط

په 2019 کال کې د جوارو د ودې په دوران (مې، جون، جولای) میاشتو کې د اوربښت کچه 213.4 ملي متره، او په 2020 کې له مې څخه تر جولای پورې د اوربښت کچه 173.6 ملي متره وه.

تودوخې درجه د جولای د میاشتې په لومړی لسیزه کې په منځني ډول 36 درجې د سانتي ګراد او مطلقه اعظمي تودوخه تر 39.8 درجو د سانتي ګراد پورې لوړه شوې وه.

د خاورې ډول ضعیف چرنیوزوم (تورې خاورې)

ASA

# لومړی جدول: د FAO 290 ګروپ مطالعه شوي هایبرېډونه

| شماره | هایبرېډ |
|---|---|
| 1 | اوسلادا (ستندرد) |
| 2 | کرسنادار خواږه جوار 290 |
| 3 | کرسنادار خواږه جوار 291 |
| 4 | کرسنادار خواږه جوار 292 |
| 5 | کرسنادار خواږه جوار 293 |
| 6 | کرسنادار خواږه جوار 294 |
| 7 | کرسنادار خواږه جوار 295 |
| 8 | کرسنادار خواږه جوار 296 |
| 9 | کرسنادار خواږه جوار 297 |
| 10 | کرسنادار خواږه جوار 298 |
| 11 | کرسنادار خواږه جوار 299 |

ASA

د ثېړنې په جریان کې د خوړو جوارو د هایبرېډونو لاندیني پارامترونه مطالعه شوي:

- د نبات قد؛
- د ځمکې د سطحې څخه په بوټو کې د جوارو د وږو د زرغونېدو لوړوالی؛
- په بوټي کې د پاڼو شمېر؛
- د جوارو له توکې څخه په لاس راغلو حاصلاتو کچه؛
- د یوه وږي وزن؛
- ناروغ وږي؛
- له تېغ وهنې تر د وږو او د جوارو د شنه کېدو پورې د ورځو شمېر؛
- له تېغ وهنې تر د حاصل پخیدو پورې و ورځو شمېر.





ASA



ASA

## دویم جدول: د خوږو جوارو (FAO 290) ګروپ د هایبرېډونو تېغ وهنه او په پلاټ کې د بوټو شمېر

| شماره | هایبرېډ | په پلاټونو کې د کرل شویو تخمونو شمېر/دانه | په پلاټونو کې د بوټو شمېر/دانه | د تېغ وهنې سلنه |
|---|---|---|---|---|
| 1 | اوسلادا (ستندرد) | 40 | 36 | 89 |
| 2 | کرسنادار خواږه جوار 290 | | 36 | 88,6 |
| 3 | کرسنادار خواږه جوار 291 | | 36 | 85,7 |
| 4 | کرسنادار خواږه جوار 292 | | 36 | 87,8 |
| 5 | کرسنادار خواږه جوار 293 | | 34 | 85,4 |
| 6 | کرسنادار خواږه جوار 294 | | 36 | 90,3 |
| 7 | کرسنادار خواږه جوار 295 | | 35 | 85,8 |
| 8 | کرسنادار خواږه جوار 296 | | 37 | 90,0 |
| 9 | کرسنادار خواږه جوار 297 | | 37 | 90 |
| 10 | کرسنادار خواږه جوار 298 | | 35 | 88,4 |
| 11 | کرسنادار خواږه جوار 299 | | 35 | 75 |

ASA

د 2019 - 2020 کلونو د اپریل په 12 نېټه په هر خېرنیز پلاټ کې د یاد ګروپ د هایبرېډونو 40 تخمونه وکرل شول.

د 3-5 ورځو په توپیر سره تخمونو تېغنې ووهلې.

د FAO 290 ګروپ د هایبرېډونو په منځ کې د کرسنادار 297 ,296 ,294 هایبرېډونو د تخمونو د تېغ وهنې سلنه لوړه وه.

د بوټو شمېر په اوسط ډول په یادو پلاټونو کې 36 وه.

ASA

دریم جدول: له کبنت ځخه تر په بوټو کې 50 سلنه پورې د وږو او ګلانو (Tassels) د زرغونېدو موده

| د وږو راوتل/ورځې | د ګلانو (Tassels) راوتل/ ورځې | هایبرېډ | شماره |
|---|---|---|---|
| 82 | 80 | اوسلادا (ستندرد) | 1 |
| 82 | 79 | کرسنادار خواږه جوار 290 | 2 |
| 82 | 79 | کرسنادار خواږه جوار 291 | 3 |
| 82 | 79 | کرسنادار خواږه جوار 292 | 4 |
| 82 | 79 | کرسنادار خواږه جوار 293 | 5 |
| 83 | 80 | کرسنادار خواږه جوار 294 | 6 |
| 83 | 80 | کرسنادار خواږه جوار 295 | 7 |
| 85 | 82 | کرسنادار خواږه جوار 296 | 8 |
| 83 | 80 | کرسنادار خواږه جوار 297 | 9 |
| 83 | 80 | کرسنادار خواږه جوار 298 | 10 |
| 82 | 80 | کرسنادار خواږه جوار 299 | 11 |

ASA

## څلورم جدول: د FAO 290 ګروپ د هایبرېډونو ځیني مورفولوژیکي ځانګړتیاوې

| شماره | هایبرېډ | د پاڼو شمېر/ دانه | د بوټو لوړوالی/ cm | د ځمکې له سطحې څخه په بوټو کې د وږو د را وتلو لوړوالی/cm |
|---|---|---|---|---|
| 1 | اوسلادا (ستندرد) | 16 | 169,4 | 64,3 |
| 2 | کرسنادار خواړه جوار 290 | 17 | 179.1 | 75.5 |
| 3 | کرسنادار خواړه جوار 291 | 17 | 168.1 | 77.4 |
| 4 | کرسنادار خواړه جوار 292 | 17 | 163.2 | 79 |
| 5 | کرسنادار خواړه جوار 293 | 17 | 169,5 | 68.4 |
| 6 | کرسنادار خواړه جوار 294 | 16 | 170.7 | 64.6 |
| 7 | کرسنادار خواړه جوار 295 | 18 | 162.1 | 65.1 |
| 8 | کرسنادار خواړه جوار 296 | 18 | 173.1 | 69.5 |
| 9 | کرسنادار خواړه جوار 297 | 18 | 175 | 62.3 |
| 10 | کرسنادار خواړه جوار 298 | 17 | 165.2 | 66.1 |
| 11 | کرسنادار خواړه جوار 299 | 17 | 154.8 | 60.8 |

ASA

## پنځم جدول: د 2019 - 2020 کلونو کې د FAO 290 ګروپ د غوره هايبرېډونو څخه لاس ته راغلي حاصلات (ټن / هکتار)

| هايبرېډونه | 2019 | | | | 2020 | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | د حاصل کچه ټن/هکتار | له ستندر څخه توپير ټن/هکتار | د يو وړي وزن / ګرام | د يو وړي /حاصل ګرام | د حاصل کچه ټن/هکتار | له ستندر څخه توپير ټن/هکتار | د يو وړي وزن/ګرام | د يو وړي /حاصل ګرام |
| اوسلادا (ستندرد) | 10.580 | - | 152.3 | 58.7 | 10.580 | - | 135.7 | 52.3 |
| کرسنادار خواږه جوار 290 | 13.8 | 3.2 | 172.3 | 73.05 | 12.5 | 1.92 | 185.7 | 78.7 |
| کرسنادار خواږه جوار 291 | 15 | 4.4 | 177.1 | 70.55 | 13.15 | 2.57 | 168.7 | 67.2 |
| کرسنادار خواږه جوار 292 | 14 | 3.4 | 165 | 65.6 | 11.75 | 1.17 | 157 | 62.4 |

ASA

شپږم جدول: په 2020 - 2019 کلونو کې د FAO 290 ګروپ د خوږو جوارو د غوره هايبرېډونو څخه په منځني ډول په لاس راغلي حاصلات ټن / هکتار

| د ترکي په (Smut) واسطه مصاب شويو وږو سلنه | د يو وږي حاصل/ ګرام | د يو وږي وزن / ګرام | له ستندر څخه توپير ټن/هکتار | د حاصل کچه ټن/هکتار | هايبرېډونه |
|---|---|---|---|---|---|
| 5,0 | 55.5 | 144 | - | 10.58 | اوسلادا (ستندرد) |
| 3,7 | 75.8 | 179 | 2.57 | 13.15 | کرسنادار خواږه جوار 290 |
| 4,8 | 68.8 | 173 | 3.49 | 14.07 | کرسنادار خواږه جوار 291 |
| 8,0 | 64 | 161 | 2.29 | 12.87 | کرسنادار خواږه جوار 292 |

ASA

# اووم جدول: د FAO 290 ګروپ د غوره هایبرېډونو اقتصادي اغېزمنتوب

| هایبرېډونه | حاصل ټن/هکتار | د یو ټن حاصل بیه/ افغانی | ټول تولیدي مصرف افغانی/هکتار | ناخالصه ګټه/افغانی | خالصه ګټه افغانی/هکتار | د اغېزمنتوب سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| اوسلادا (ستندرد) | 10.58 | 39100 | 69300 | 413678 | 344378 | 496.9 |
| کرسنادار خواږه جوار 290 | 13.15 | | | 514165 | 444865 | 641.9 |
| کرسنادار خواږه جوار 291 | 14.7 | | | 574770 | 505470 | 729.3 |
| کرسنادار خواږه جوار 292 | 12.87 | | | 503217 | 433917 | 626.1 |

ASA

# پایلې

د دې څېړنې څخه لاندې پایلې ترلاسه کېږي:

- د جوارو د لاینونه په نسبت د جوراو هایبرېډونه د لوړ حاصل درلودونکي دي.
- د بوټو د لوړوالي له اړخه د FAO 290 ګروپ هایبرېډونو په منځ کې د کرسنادار 290 هایبرېډ بوټي د لوړ قد درلودونکي ول چې په منځني ډول یې د بوټو لوړوالی 179,1 cm وه او د کرسنادار 299 هایبرېډ د بوټو لوړوالی په منځني ډول 154,8 cm ته رسېږي چې نسبت نورو هایبرېډونو ته یې د بوټو قد ټیټ وه.
- دپاڼو شمېر د FAO 290 ګروپ په ټولو هایبرېډونو کې توپیر درلود چې پاڼو شمېر له 16 - 18 متغیر وه.
- د FAO 290 خوږو جوارو هایبرېډونو په ګروپ  کې د کرسنادار 290 ,291 ,292 هایبرېډونو د ښه حاصل درلودنکي دي حاصلات یې په ترتیب سره 13.15، 14.7 او 12.87 ټنه وه چې د اغېزمنتوب کچه یې په ترتیب سره 641.9، 729.3 او 626.1 سلنه ده.

ASA

# وړاندیزونه

1. څرنګه چې د جوارو دوه رګه کول یو مغلق پروګرام دی او ډېر وخت ته اړتیا لري، له دې امله د افغانستان د علومو اکاډمۍ ته وړاندیز کېږي ترڅو د کرنې انسټیټیوټ لپاره دې د یاد پروګرام د پلي کولو په موخه مناسب شرایط برابر کړي.
2. د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ محترم وزارت ته وړاندیز کېږي چې د هېواد اقلیمي شرایطو ته په کتو سره دې د جوارو د لوړ حاصل لاس ته راوړلو په موخه د جوارو د تخمونو د دوه رګه کولو په برخه کې څېړنې ترسره کړي.
3. بزګرانو او د کرنې ماهرینو ته وړاندیز کېږي چې د کښت به موخه دې یواځې د $F_1$ هایبرېډ تخمونه وپېري.

ASA

# له پاملرنې مو مننه

